مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۹/۲۰

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۹۹مه برخه

ځان به بیخي درنه راټولکړم
له ما نه تنګه یاره، نه دې تنګومه

د یار شه دواړه برخي خواري
دلته بې‌یاره، هلته واړه دوزخونه

د مسیجونو یار دې زه یم
په روح‌افزا شوندو دې بل مزې‌کوینه

د لنډیو د دې برخي له‌پاره دا لنډۍ برابرې شوې دي:

چې د چا خپل‌یار بې‌وفا وي
څه به ملا وي، څه د غاړې تاویزونه

چې ماخوستن شي، زړه مې تنګـشي
کټ مې کفن شي، غم مې خوب ته نه‌پرېـږدینه

خلک به وایي چې ویده دی
ما به د یار کوڅې ځان وژلی‌وینه

ځان به بیخي درنه راټولکړم
له ما نه تنګه یاره، نه دې تنګومه

څه نازولي يې کرار کړل
په هدیرو کې زولنی دي، که میخونه

که راته ګورې، درته ګورم
که راته نه‌ګورې، پروا دې نه‌ساتمه

کوژده مې نه ده، ولې ژاړې
موږ کره هسې میلمانه راغلي‌دینه

کلي ته درغلم، ته نه‌وې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

خړو کوڅو کې دې یوازې ګرځېدمه

بلی ته راغله، مور ته ژاړي
رانجه ترې غواړي، یار ته سترګې توروینه

پرغټوسترګو یې مئن شوم
ځکه مې غټې - غټې اوښکې پرمخځینه

په انتظار مې اوسه یار ه
که مرګ رامخکی نه شو، تاله به درځمه

پر ما به غبرګې بنې راشي
لالی دې نورې پیسې نه‌ګټې مینه

دغه عادت راته سوراور شو
چې ویې نه‌وینم، نرۍ تبه مې شینه

د سره‌ټیکري پیڅکه مې نیسه
بدنامه ښه‌یم چې تاوان دربانديِ شمه

د یار شه دواړه برخې خوارې
دلته بې‌یاره، هلته واړه دوزخونه

د مسیجونو یار دې زه یم
په روح‌افزا شونډو دې بل مزې‌کوینه

د ډیرانه پرسرمې شپه وای
یار راسره وای، خیر به خلکو راکاونه

د ببلتانه زور مې لیدلي
په میږې پښه نه‌ږدم چې یار بې پاتې‌شینه

د هیریـدو نهٔ ئې جانانـه
له جـدایٔ سره دې ځان عادتومـــــــه

د زړه پرسرمې اور بلیـږي
که څوک تودیـږي، زما خوا له دې راځینه

داسې دله باندې مئن شوم
چې تولة ناسته یې د ښځو منځ کې وینه

د زړګي زور مې ویلې‌شوی
ژونده مزل دې لنډوه، سترې دې کړمه

د پیغلو زړونه فولادي دي
یو یار یې مړ وي، بل ته سترګې توروینه

زړګیه څه‌دربانديِ وکړم
نه دې بلا خوري، نه دې پیغلې قبلوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**زما یو تهوږ، بل مي خدای و**
**خدای خو مي شته او تا یوازې پرېښودمه**

**زما قسمت په خوب ویده ده**
**د خلکو وختل اسمان ته قسمتونه**

**زما تصویر توټې، توټې کړه**
**په زور ناري کړه چې یاري دې نهکومه**

**زما یارۍ ته به تېنګ نهشې**
**زه له اتیاګزو نه یو کمیس کومه**

**راځه ـ راځه کلي تا راشه**
**ته به توتان خورې زه به ستا دیدن کومه**

**ستا د دیدن باران دې وشي**
**که لارې ختې شوې، موزې به پېښوکومه**

**سترګې رنجو باندې توریږي**
**د ظالم لور پهکې کڅوړې تشوینه**

**سپرلی به څوځلی بیا راشي**
**راخوبه نهشي مرګ خوړلي صورتونه**

**ښکاره دې نوم اخیستی نهشم**
**د زړه له سوخته دې ټپو کې یادومه**

**لاس په ولاړې راچاپیر که**
**تر کېنتستوپورې مي صبر رانهځینه**

**له بېلتانه نه دې خوند اخلم**
**چې چېرته ځانتهشم، په چغو وژاړمه**

**وطن او موروپلار خواږه دي**
**زه دغه دربواره پرېږدم، تا سره ځمه**

**نن مي ترسترګو ـ سترګو کېږي**
**خدای دې په خوب کې راته راولهـ میْنه**

**ته بېوفا شوې، زه دې هیرکړم**
**زه بېوفا نـهیـم چـې تـا بـه هـېرومه**

**یا به زما نصیب خراب وي**
**یا به دا تولې یاراني همداسيوینه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:
**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ